# ستونزی

روان ستونزی به کم نشي ترڅو واک چي دا اشرار وي
همدا وضع همدا حال په وطن کی پا یدار وي
نیکمرغی او خوشحالي به د خلکو نصیب نشي
تر هغه چی مقامات د ناپوهو په اختیار وي
تربړمي به په وطن وي خلک غریب او نیسمن وي
څو چي دا شیطان صفتو په چوکي اواقتدار وي
چپاول او لوټماری له وطن به ورک نشي
تر هغه چي زورواکي د بوس سر ټوپکسالار وي
د پردو به واکداری وی افغانان به اجنبی وي
د جاسوسو او ارزالو تل به ګرم همدا بازار وي
نه به ښځی آزاد وي نه د افغان زړونه شاد وي
د ملا په فتوا آزاد ښځو ته سنګسار وي
همدا څو ټیکه داران پنجابی کاسه لیسان
عطاګی جمیعتی لوی یاغی چی د مزار وي
د حرکت او د پاڅون شرایط ټول چمتو دي
نوردزغم نشته ځای ترڅو«مل» خلک په کوکار وي
****جرمنی ۲۰۱۶-۰۷-۱۵